د مولانا داکتر محمد سعید « سعید افغاني » لیکنه

د نشر نیټه: اول نوامبر 2023 میلادی

# شور او عشق!

**شوق:** شوق هغه دی چی په انسان کی د څه موجباتو په اثر د حرکت کار او باعث پیداشي ، په دی مرتبی کی انسان د خپل مطلب په خوا هڅه کوي او د خپلی هڅی څخه یو رنګ خوند او لذت هم اخلي.

د شوق په مرتبه کی فقط اشتها قوي وي او بیا د حصول او وصول په مرتبه کی پوره خوند او لذت پیدا کیږي ، د شوق مرتبه که څه هم د حق په لیاره کی د ستاینی وړ ده خوبیا هم انسان ته په دغه مرحله کی د رسیدو په هغه د موانعو او عوایقو ډیر احتمالات شته دي.

شوق یو رنګ داسی مینه او تلوسه ده کومه چی د کمال او پوخ والی مرتبی ته لیا هنوز نه وی رسیدلی ، مګر امید واري په دی کی ده چی د شوق محرکه مرحله پیدا شوی ده چی د دی په برکت به د معقو ل فعالیت په اثر د مشکلاتو او لانجو لری کیدو زمینه ښه مساعده او برابره شي .

**عشق:** عشق د شوق اخرنی درجه ده او یا د شوق څخه پورته هغه مرتبه ده کومه چی د کلکو تصمیمونو موجب ګرځي ، د عشق په مرتبه کی د نه کیدو مفکوره نه قبلیږی.

د عشق په مرتبه کی عشق په ټولو فعالتونو مسلط کیږی او د رنج او رنځ خیال له مینځه ځي چی عاشق د معشوق له خوا د ضرراو تکلیف رسولو څخه هم خوند او لذت اخلی.

ابن سینا انسانانو ته د شوق او اشتیاق په مرتبی قایل دی او د ده په نزد د انسانانو لپاره د عشق د کلمی استمال حقیقي نه دی ، ځکه چی حقیقي عشق د ده په نزد ټول ابتهاج ، سرور او کمال دی چی امکان او عدم نه قبلوي .
ابن سینا حقیقي عشق د الله « ج » صفت ګڼی او د مجازي عشق نسبت انسانانو ته هم کوی وایی:
والاول عاشق لذاته ، معشوق لذا ته عشق من غیره او لم یعشق و لکنه لیس لایعشق من غیره بل هو معشوق لذاته من ذاته و من اشیاء کثیرةّ غیره.

**در ترجمعی حاصل:**

**اول یعنی الله « ج » په خپل ذات عاشق دی او خپل ذات یی د خیل ذات لپاره معشوق دی د دی پروانه کوی چی نور په ده عاشق شي او که نه ؟ لکن داسی نه ده چی نور وربانی عاشق نه شي بلکی د ده ذات د ده او د نو رو ډیرو لپاره معشوقه ده.**

**محقق طوسی لیکلی دی:**

**ابن سینا د عشق په هکله یوه ډیره ښه رساله لیکلی ده چی په هغه کی یی دا ښودلی ده چی د عشق عملیه په ټولو کایناتو کی وجود لری او د حق له خوایی ورته سریان او جریان پیدا کړی دی.**

**حقیقت دا دی چی دنیا په عشق پیدا او په عشق پایی او ابادیږی!**

**د دنیا حرکت د شوق او عشق محصول دی او د شوق او عشق په وسیلی ټول پخوانی ، موجود او راتلونکی تحولات ، اکتشافات او مدنیتونه مینځ ته راغلی او راځي او که شوق او عشق نه وي هیڅ په نه وي او که فرضاً وي ضرورېه د جمود او خمود سره مخامخ د مطلق عطالت او بیکاری دوران وي ، خوند به نه وي ، لذت به نه وي احساسیده حتی هیڅ به نه وي او نه به د هو ـ او نه ـ مفهوم حقیقت پیدا کړی وي.**

**حقیقت دادی چی په عشق باندی دنیا اباده ده او د عشق د لیاری کمال او فیضان په برخه کیدی شي .**

**عشق یو داسی قوي جاذبوی قدرت دی کوم چی ټول کاینات د دی په محور څرخیږي ، وجود او هستی ټول د حقیقی عشق اثرات او شعاعی دي چی د حکمت په اساس بقاء او پایښت لري.**

**همدا وجه ده چی حقیقي متصوفین د عشق د زیات فیضان ، جاذبی او شعاعو په اساس د صلاح ، فلاح ، نیکمرغی او خیرپه لیاره کی نه ستړی کیدونکی فعالیتونه کوي او په پوره خوند ، جذبی او لذت د حقیقي بقاء او پایښت په خوا روان دي.**

***

**مولانا داکتر سعید افغاني**

**ترتیب کوونکی : برهان الدین « سعیدی»**

**بازگشت به صفحه اصلی - www.said-afghani.org**